# الله تعالى ستاسو شكلونو او مالونو ته نه ګوري، بلكې هغه ستاسو زړونو او عملونو ته ګوري

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "الله تعالى ستاسو شكلونو او مالونو ته نه ګوري، بلكې هغه ستاسو زړونو او عملونو ته ګوري".
[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې الله تعالى د خپلو بندګانو شكلونو او جسدونو ته نه ګوري چې آيا ښكلي دي كه بدرنګه؟ ايا هغه لوى دي كه كوچني؟ يا هغه روغ دي كه ناروغه؟ او نه د هغوى مالونو ته ګوري چې ډير دي او كه لږ؟ الله جل جلاله خپل بندګان پدې نه نيسي او نه ورسره پدې شيانو حساب كوي چې دوى پكې يو له بل سره تويير لري، مګر هغه د دوى زړونو ته ګوري او هغه څه چې د دوى په زړونو كې له تقوا، يقين، صداقت، او اخلاص څخه دي او يا له ځان ښودنې او شهرت څخه او هغه د دوى عملونو ته د سمون او فساد له نظره ګوري؛ نو ثواب او يا جزا پرې وركوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4555